# فیضانِ ربیعُ الآخِر

28-November-2019



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# فيضانِ ربيعُ الآخِر

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** كله جُمات ته داخل شئ، او ياد مو وي نو د اِعتِكاف نِيَّت كوئ، تر څو چه جُمات كښے ئے نو د اِعتِكاف ثواب به مو كيږي. ياد ساتئ! جُمات كښے د خوراك څښاك، اُوده كيدو يا پيشمني او روژه ماتي كولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم يا دَم كړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته كه د اعتكاف نِيَّت مو كړے وي نو دا ټول كارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِكاف نِيَّت هُم صرف خوراك څښاك يا اُوده كيدو د پاره كول نه دي پكار بلكه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاوىٰ شامى**" كښے دي: كه څوك جُمات كښے خوراك څښاك يا اُوده كيدل غواړي نو د اِعتِكاف نِيَّت دِ اوكړي، لږ ساعت دِ ذِكْرُ الله اوكړي بيا چه څه غواړي كوي دِ (يعني بيا كه غواړي نو خوراك څښاك كولے شي او اُوده كيدے شي)

## د دُرُود شريف فضيلت

حُضُور نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چه په ما يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله تعالیٰ په هغه لس رحمتونه نازلوي او څوك چه په ما لس ځله دُرُود شريف اولولي الله تعالیٰ په هغه سل رحمتونه نازلوي او څوك چه په ما سل ځله دُرُود شريف اولولي الله تعالیٰ د هغه د دواړو سترګو تر مينځه اوليکي چه دا د نِفاق او د دوزخ د اور نه آزاد دے او هغه به د قيامت په ورځ شهيدانو سره ساتي. (مُعْجَم اَوْسَط ج٥ ص٢٥٢ حديث ٢٧٣٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌمِّنْ عَمَلِهٖ**" [يعني] د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نيك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدلو نيتونه

[1] (معجم کبِير سهل بِن سعد الساعدی...الخ، ٦/١٨٥، حديث ٥٩٤٢)

❁ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بیان واورئ ❁ پوره تَوَجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ❁ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** نن زمونږ د بیان موضوع ده "**فیضانِ رَبِیعُ الْآخِر**" چه په دے کښې به مونږه د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اِیثار یوه د ایمان نه ډکه واقعه او د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سیرت مُتَعَلِّق بیان اورو، د **رَبِیعُ الْآخِر** میاشت څنګه تیرول پکار دي، بُزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د دے میاشتے په مناسبت د کومو کومو عباداتو ذِکر کړے دے دا به هُم اورو، په آخره کښې به اِنْ شَآءَاللّٰه د **رَبِیعُ الْآخِر** او د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په نِسبت د یوولسمے شریفے تعریف او بَرَکتونه هُم بیانیږي او د دے نه علاوه به نور نکات هُم اورو.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته ښو ښو نیتونو او تَوَجُّه سره پوره بیان د اوریدلو سعادت رانصیب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت زَینب بِنتِ خُزَیمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا

اے عاشقانِ رَسُول! رَبِیعُ الْآخِر هغه عظیمه میاشت ده چه د دے په څلورم تاریخ د حضرتِ زینب بِنتِ خُزَیمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د وصال ورځ ده، راځئ چه په دے مناسبت د هغوئي د پاکِیزه سِیرت یو څو خبرے واورو:

۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا نوم زَینَب وو. (تهذيب اللغه، ۲۳۰/۱۳) ۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا والِد خُزَیمه بِن حارِث دے. ۞ هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د حضرتِ عبدُاللّٰه بِن جحش رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهادت نه پس د حُضُورِ اَقدَس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زَوجِیَت شرف حاصل کړو او د اُمُّ الْمُؤمِنِین یعني د مُؤمِنانو د مور کیدو په اعلٰی مُقام باندے فائز شوه. (طبقات ابن سعد، ۹۱/۸) ۞ هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ډیره زیاته سخي وه. ۞ هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا به یتیمانو او مسکینانو سره د مهربانئ سلوك کولو او په هغوئي باندے به ئے کثرت سره طعامونه خوړل، په دے وجه د اُمُّ الْمَساکِین یعني د مِسکینانو د مور په لقب مشهوره شوه ۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا وِصال د خوږ مکّی مَدَنی مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نکاح کښې راتلو نه صرف اته میاشتے پس رَبِیعُ الْآخِر سن 4 هجري کښې اوشو ۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا عُمر هغه وخت دیرش کاله وو. (زرقانی علی المواهب، ۴۱۸/۴) ۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا د جنازے اِمامت تاجدارِ مدینه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوکړلو او په خپلو بشکلو لاسو ئے دفن هُم کړله. (طبقات ابن سعد، ۹۲/۸) ۞ د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا وِصال په مدینهٔ مُنَوَّره کښې اوشو او ۞ مزار مبارك ئے په جَنَّتُ الْبَقِیْع کښې دے. (ایضا، ۹۲/۸)

## رَبِيعُ الْآخِر ته د رَبِيعُ الْآخِر وئيلو وجه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! رَبِيعُ الْآخِر د اسلامي کال څلورمه مياشت ده او چه کله د اسلامي مياشتو نومونه ايښودلے شو نو د رَبِيعُ الْآخِر مياشت د سپرلي د موسم په آخره کښې راغله لِهذا دے ته د رَبِيعُ الْآخِر نوم ورکړے شو. (غياث اللغات، باب رائے مهمله، ص ۲۹۵)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَبِيعُ الْآخِر مياشت پيرانِ پير دستګير غوثُ الاعظم شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره خاص نسبت لري، يقيناً هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **الله** پاك نيك بنده، مقبول ترين ولي بلکه د ټولو وليانو سردار دے، او حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان بِن **عُيَيْنه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ يعني د نيکو خلقو د ذِکر په وخت کښې رحمت نازليږي. (حلية الاولياء، رقم: ۱۰۷۵۰،۷/۳۳۵) لِهذا نن به مونږه هُم د رَبِيعُ الْآخِر په مناسبت د پيرانِ پير غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکرِ خير کوو او د **الله** پاك د رحمتونو حاصلولو سعادت به حاصلوو. راځئ چه د پيرانِ پير غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف واورو:

## د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارُف

غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يکم رَمَضَانُ الْمُبَارَك 470هجري کښې د جُمُعے په ورځ جِيلان کښې پيدا شو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کُنيت ابو محمد دے، او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اَلقابات مُحِيُّ الدِّين، محبوبِ سُبحاني، غوثِ اعظم او غوثِ ثَقَلَين

وغيره دي. د هغوئي د والِد مُحترم رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ نوم حضرت اَبُو صالِح مُوسٰی جنګي دوست او د والِده مُحترمه نوم اُمُّ الْخَير فاطِمه رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہَا دے، هغوئي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د والِد مُحترم له طرفه حَسَني او د والِده ماجِده رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہَا له طرفه حُسَيني سيِّد دے. حضرتِ اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د حضرت شيخ عبدُ القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ وصال 11 رَبِيعُ الْآخِر 561 هجري کښې د ماښام نه پس بَغداد شريف کښې اوشو. د وصال په وخت کښې د هغوئي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ عُمر مبارك تقريباً 91 کاله وو، د جنازے اِمامت ئې خپل شهزاده [يعني ځوئ] حضرتِ سَيِّد سيفُ الدِّين عبد الوهاب قادِري رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ اوکړو او بيشميره خلقو ئے په جنازه کښې شرکت اوکړلو. د هغوئي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ مزار مبارك د عراق مشهور ښار بَغداد شريف کښې دے چه په هغے شپه او ورځ د زيارت کوونکو ګڼړه وي. (الزيل على طبقات الحنابلة،۳/۲۵۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ اولياء! راځئ چه د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ د ايثار په جذبه باندے مُشتمل يو ايمان تازه کوونکے حکايت واورو، چنانچه

## د زمکے نه ټکړے راټولو او خوړل

حضرت شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: ما به په ښار کښې د خوړلو په اِراده غورزيدلي ټکړے يا ځنګل کښې څه ګيا يا پاڼړے راخستل غوښتل او چه کله به ما اوليدل چه نور فُقَراء هُم د دے په تلاش کښې دي نو په خپلو اسلامي ورونړو به مے اِيثار [يعني

قرباني] اوکړه او هغه به مے نه راخستل بلکه دغسے به مے پریښودل چه هغوئي ئے پورته کړي او یوسي او پخپله به اوږے اوسیدم. چه کله مے د لوَږے په وجه کمزوري د حد نه زیاته شوه او مرګ ته نزدے شوم نو ما د ګلونو والا بازار کښې په زمکه پروت یو څیز راواخستو او یو ګوټ ته لاړم او د هغے د خوړلو د پاره کښیناستم. په دے کښې یو عَجَمي ځلمے راغلو، هغه سره تازه ډوډئ او سره کړي غوښه وه، هغه کښیناستلو او خوراك ئے شروع کړو، هغه مے چه اولیدلو نو زما د خوراك خواهش یو دم ډیر زیات شو، چه هغه به د خوړلو د پاره نوړئ راپورته کړه نو د لوَږے د بے صبرئ په وجه به بے اِختیاره ما په زړه کښے وئیل چه دا نوَړئ زما په خُله کښے راکړي. آخِر ما خپل نَفس اورټلو چه "بے صبري مه کوه، **الله** عَزَّوَجَلَّ زما سره دے. که هر څه اوشي خو زه به دے ځلمي نه خوراك اُو نه غواړم." ناڅاپه هغه ځلمے زما طرف ته مُتَوَجِّه شو او راته ئے اووئیل: وروره! راځئ زما سره ډوډئ اوخورئ، ما اِنکار اوکړو. هغه ډیر کلك سَت اوکړو، زما نَفس زما زړه د خوراك د پاره ډیر را اوپارولو خو ما بیا هم اِنکار اوکړو. خو د هغه ځلمي په مسلسل سَت کولو ما لږ شان خوراك اوکړو. هغه زما نه تپوس اوکړو، د کوم ځائے اوسیدونکے ئے؟ ما اووئیل: د **جِیلان**. هغه اووئیل: زه هم د جِیلان یم. ښه دا راته اووایه چه ته د مشهور عابِد و زاهِد او وَلِیُّ الله حضرتِ سَیِّد **عبدُالله صومعي** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه نمسے (یعني د لور ځوئ) **عبدُالقادِر** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه پیژنے؟ ما اووئیل: چه هغه خو زه یم. دا ئے چه واوریدل نو هغه بے قراره شو او اوئے وئیل: "زه چه **بَغداد** ته راتلم نو ستاسو مور بي بي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡهَا ستاسو د

پاره ماله د سرو زرو اَته اشرفۍ راکړي وے، زه دلته **بَغداد** ته راغلم ستاسو ډير تپوسونه مے اوکړل خو چا ستاسو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه څه دَرَك رانكړو تر دے چه زما ټول رقم خرچ شو، زه د درے ورځو نَهَر ووم، چه كله د لوَږے نه بے حاله شوم او د مرګ خطره مے پيدا شوه نو ما ستاسو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په اَمانت دا ډوډۍ او سره کړی غوښه واخسته. حُضُور! تاسو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا په خوشحالۍ خوشحالۍ اوخورۍ ځكه چه دا هم ستاسو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مال دے، مخکښے تاسو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه زما ميلمه وۍ او اوس زه ستاسو ميلمه يم. باقی رقم ئے ما ته راکړو، بيا ئے اووئيل چه: ما مُعاف کړۍ. په اِضطِراري حالَت کښے مے ستاسو په رقم طعام اَخستے وو.'' زه ډير خوشحاله شوم. ما پاتے شوے طعام او څه نور رقم هغه ته ورکړو، هغه قبول کړو او لاړو. (الذيل على طبقات الحنابلة ۳/۲۵۰)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اوس چه مونږه كوم حكايت واوريدلو، دا حِكايت د اميرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا محمّد اِلياس عطّار قادِري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د رساله ''سانپ نُما جِنّ'' د صفحه 11 نه بيان كړے شوے دے. په دے رساله کښې اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د سِيرت مُتَعَلِّق نور ايمان تازه كوونكي حكايتونه هُم نقل کړي دي، لِهذا دا رساله د **مَكۡتَبَةُ الۡمَدِينه** د بستے نه هديةً طلب کړۍ او د دے مطالعه اوکړۍ، د

دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه هُم دا رساله لوستلے، ډاؤن لوډ کولے او پرِنټ آؤټ کولے شئ.

اے **عاشقانِ غوثِ اعظم!** دے بيان شوي حکايت کښې زمونږ د پاره ډير نکات موجود دي، اوګورئ! يو طرف ته خو زمونږه پير و مُرشِد پيرانِ پير غوثُ الاعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه دے چه هغوئي د سخت ضرورت او لوَږے باوجود هُم د طعام او رقم په معامَله کښې د بےمثاله اِيثار [يعني قُربانئ] مظاره اوکړه او بل طرف ته زمونږه حال دا دے چه د اُوږي اوسيدلو توفيق خو پريږده، بِالفرض که د يوولسمے شريفے د خيرات بِرياني مخے ته راشي نو هُم د حِرص راباندے داسے غَلَبه وي چه زړه کښې وائيو چه دا ټول تالے زه اوخورم، د غوښے پوټے خو لرے خبره ده چه څوك را نه د وريژي يوه دانه هُم اُو نه خوري! اے عاشقانِ غوثِ اعظم! که چرے تاسو ته نورو خلقو سره يو ځائے د طعام خوړلو اتفاق اوشي، د جُوولو نه بغير د غټو غټو نوړو زر زر د تيرولو او بنه بنه پوټي خپلے مخے ته د راښکلو لالچ درباندے غالِب شي نو هغه وخت د خپل پير و مُرشِد غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه دا بيان شوے حکايت او ورسره ورسره دا فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم ذِهن کښې راولئ، چنانچه

د **الله** تعالیٰ خوږ نبي مکّي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "څوك چه هغه څيز چه د هغے ښِکپله هغه حاجت لري، بل ته ورکړي، نو الله تعالیٰ هغه اُوبخښي." (اتحاف السادة،۹/۷۷۹)

د دے نه علاوه فیضانِ سُنَّت جِلد اَوَّل صفحه 482 کښې د **حضرت** ابُو سُلیمان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه دا اِرشاد مبارک هم لیکلے شوے دے چه: "د نفس یو خواهِش پریښودل د دولسو میاشتو د روژو او د شپو د عبادتونو نه هُم زړه ته زیاته فائده ورکوي." (إحیاءُ العلوم،۳/۱۱۸)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه هُغه عظیم ولي دے چه د هغوئي ټول ژوند د **اللّٰه** تعالیٰ په عبادت او د هغه د مخلوق په خدمت کښې تیر شوے دے. **اللّٰه** تعالیٰ هغوئي ته بیشمیره صفتونه ورکړي وو. راځئ چه د غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه په ذات کښې د موجودو صفاتو یو څو جلکیانے واورو، چنانچه

**اللّٰه** تعالیٰ پیرِ لا ثاني، شَهبازِ لامکاني، غوثِ صَمَداني، قُطبِ رَبّاني، شیخ عبدُ القادِر جِیلاني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ته ښه اخلاق ورکړي وو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه به ذِکر و فِکر کښې مشغول اوسیدلو، د **اللّٰه** تعالیٰ مخلوق سره به ئې خیر ښیګړه کوله، مهربانه، شفیق او میلمه دوست وو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ډیر زیات سخي وو، سوالګر به ئے تش لاس نه لیږلو، مِسکِینانو او غریبانو باندے ډیر مهربانه وو، کمزورو خلقو سره به کښیناستلو، د بیمارانو پوښتنه به ئې کوله، د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه صُحبت کښې اوسیدونکو کښې به چه څوك حاضر نه وو د هغه خبر به ئې اخستلو، هغوئي به د ملګري عِزّت کولو او هغه سره به ئې ښه سُلُوك کولو، چه کله به ئې خپل یو

ملګرے د غم په حالت کښې ليدلو نو د هغه غم به ئې لرے کولو، د هغوئي هر ملګري به دا ګنړله چه زه د هغوئي په نزد عزتمند يم، هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ به هره شپه د دسترخوان خوړولو حُکم کولو او ميلمنو سره به ئې طعام خوړلو، چه هغوئي له به څه تُحفه راغله نو حاضرو خلقو کښې به تقسيم کړه، تُحفه به ئې قبلوله او د هغے بدله به ئې ورکوله، د خپل نفس د پاره به ئې غُصَّه نه کوله. (بهجة الاسرار، ص۱۹۹تا۲۰۰ملتقطاً) د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ خاموشي به د هغوئي د کلام [يعني خبرو] نه زياته وه. (قلائد الجواہر، ص۱۹،ملتقطاً) سلام کولو کښې به وړومبے کيدلو، هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ کله هُم د مالدارانو او سردارانو د تعظيم د پاره نه وو اودريدلے او نه کله د وزيرانو او بادشاهانو دروازے ته ورغلے وو. (قلائد الجواہر، ص۱۹،ملتقطاً)

**اے عاشقانِ رَسُول!** تاسو واوريدل چه زمونږه غوثِ پاك پيرانِ پير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د څومره ښکلو عادتونو مالك وو. **کاش چه** زمونږه عادتونه هُم ښه شي، **کاش چه** زمونږه اخلاق هم ښه شي، **کاش چه** مونږه هم مَدَني انعاماتو باندے عمل کوونکي جوړ شو، کاش چه مونږه هم مخلوقِ خُدا سره خير ښيګړه کولو والا جوړ شو، **کاش چه** مونږه هُم مهربانه، شفقت کوونکي او ميلمه دوست جوړ شو، **کاش چه ربّ** تعالیٰ مونږه هُم سخاوت کوونکي او د حاجتمندو حاجتونه پوره کوونکي جوړ کړي، **کاش چه** مونږه هُم په غريبانو او مِسکينانو شفقت کوونکي جوړ شو، **کاش چه** مونږ ته هُم کمزورو سره د ناستے توفيق رانصيب شي. **کاش چه** مونږ ته هُم د بيمارانو د پوښتنے کولو سوچ رانصيب شي، کاش چه مونږ ته هُم جُمات ته د نه راتلونکو او د سُنَّتو ډکے اِجتِماع او مَدَني مذاکرو

وغيره كنبي د نه حاضريدونكو د خبر اخستلو توفيق رانصيب شي، **كاش چه** مونږه هُم د خپلو اِسلامي ورونړو عِزَّت كوونكي او هغوئي سره ښه سُلوك كوونكي او د هغوئي غمونه لرے كوونكي جوړ شو، **كاش چه** مونږه هُم لنګرِ رَضَوِيَّه كښې د خپل جيب نه خرچ كوونكي جوړ شو او د اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دُعاګانے واخلو، **كاش چه** مونږه هُم د خپل ذات د پاره بے وجه غُصَّه كولو نه بچ كيدو والا جوړ شو، **كاش چه** مونږه هُم هر مسلمان ته سلام كولو والا جوړ شو. **كاش چه** مونږه هُم مالدارانو سره د خپل ذات د پاره نه بلكه صرف د خپل خوږ مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي د پاره چنده كولو والا او د قُربانئ د څرمنو د پاره رابطه كوونكي جوړ شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## رَبِيعُ الْآخِر د يوولسمے شريفے مياشت ده

اے **عاشقانِ غوثِ اعظم!** د رَبِيعُ الْآخِر مياشت د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره نسبت لري ځكه چه د دے مياشتے په يوولسم تاريخ د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وصال شوے وو. (مِراۃُالْاَسرار(مرجم)، ص۵۷۱،تاريخ مشائخِ قادريه، ۱۷۱/۱) ځكه عاشقانِ اولياء د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رُوح ته اِيصالِ ثواب كولو د پاره نذر و نياز [يعني خيراتونه] كوي. په هُم دے مناسبت دے مياشتے ته د **"د يوولسمے شريفے مياشت"** هُم وائي.

## يوولسمه شريفه څه ته وائي؟

صاحِبِ بهارِ شريعت حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د رَبِيعُ الْآخِر په يوولسم تاريخ بلکه د هرے [اسلامي] مياشتے په يوولسم تاريخ د حُضور غوثِ اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه [د ايصالِ ثواب د پاره] فاتِحه لوستلے کيږي، دا هُم د ايصال ثواب [يعني د ثواب بخښلو] يو صورت دے بلکه د غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه [د ايصالِ ثواب د پاره] چه کله هم فاتِحه لوستلے کيږي، که په هر تاريخ وي، عوام هغے ته د يوولسمے فاتِحه وائي. (بهار شريعت، حصه ۱۶، ۳/۶۴۴)

## د يوولسمے شريفے بَرَکت

حکيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: په دے مياشت کښې دِ هر مسلمان په خپل کور کښې د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِعَلَيْه [د ايصالِ ثواب د پاره] فاتِحه [يعني تلاوت او خيرات وغيره] کوي. ټول کال به [ئے په کور او مال وغيره کښې] ډير بَرَکت کيږي. (اسلامی زندگی، ص ۱۳۳)

## روزئ کښې د بَرَکت نُسخه

اميرِ اَهلِسُنَّت حضرت علّامه، مَولانا، محمّد اِلياس عطّار قادِري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: تاجِر دِ روزانه د خپلے دندے (Sale) نه يو فيصد او تنخوا دار دِ د هرے تنخوا د رقم نه

ڪم از ڪم دوه فيصه اوباسي او د يوولسمے شريفے ماهانه نياز [يعني خيرات] دِ كوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه د هغه په روزئ كښې به بَرَكت كيږي. (كه په كور كښې د نياز كولو رُكاوټ وي نو بل يو نيك كار كښې هغه رقم خرچ كړئ) (ماہنامہ فیضانِ مدینہ، رَبیعُ الآخر ۱۴۴۰ھ، ٹائٹل پیج)

## هره مياشت يوولسمه شريف كوئ

اے عاشقانِ غوثِ اعظم! كه كيدے نو هره مياشت يوولسمه شريف كوئ. ضروري نه ده چه په دے كښې دِ زرګاؤ روپئ خرچ كړے شي بلكه چه څومره په آسانئ ويستلے شئ په هغے د دے كامِل ولي نياز [يعني خيرات] كوئ، چنانچه حكيمُ الاُمَّت **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: كه د هرے اسلامي مياشتے په يوولسمه شپه يعني د لسم او يوولسم تاريخ مينځنئ شپه باندے د مقررو پيسو شيريني د مسلمان د دُكان نه واخلي او په پابندئ سره د يوولسمے فاتحه [او دا خيرات] كوي نو رزق كښې به ئې ډير بَرَكت كيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه كله به هُم نه پريشان حاله كيږي خو شرط دا دے چه [پابندي ساتي او] يو تاريخ ناغه پكښې نه كوي او څومره پيسے چه مقررے كړي په هغے كښې كمے نه راولي، دومره پيسے دِ مقررے كړي د څومره چه پابندي كولے شي. پخپله زه د دے سختئ سره پابند يم او د **اللّٰه** په فضل د دے بيشميره فائدے وينم. (اسلامی زندگی، ص۱۳۳)

هم كو "گياره" كا هے عدد پيارا، ان كى تاريخِ عرس هے گياره

یوں عدد ہم کو پیارا گیارہ ہے، واہ کیا بات غوثِ اعظم کی

(وسائل بخشش مُرمَّم، ص۹)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ایمان او عقائدو صحیح کیدو نه پس په ټولو فرائضو کښې نهایت اَهم او اعظم [یعني د ټولو نه غټ فرض] لمونځ دے. (بهارِ شريعت، ۴۳۳/۱) قرآن و حدیث د لمانځه د اَهَمِّيَّت نه مالامال دي. د یو روایت مطابق به د قیامت په ورځ ټولو نه مخکښې د لمانځه حساب اخستلے کیږي. (ابنِ ماجه ج۲، ص۱۸۳، حدیث۱۴۲۶) قرآنِ پاك کښې ځائے په ځائے د لمانځه تاکید راغلے دے. نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمانځه سره ډیر مَحبَّت لرلو. نَبِيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړے شو چه په اسلام کښې د **الله** پاك په نزد د ټولو نه زیات محبوب [یعني خوښ] څه څیز دے؟ نو نَبِيِّ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: لمونځ په خپل وخت کښې ادا کول، چا چه لمونځ پریښودو د هغه هیڅ دِین نشته، لمونځ د دِین ستن دہ. (شعب الايمان، ۳۹/۳، حديث: ۲۸۰۷)

د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سِیرت مبارك کښې هُم لمانځه سره د مَحبَّت واقعات موجود دي. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مُبارك ژوند کښې به د لمانځه خومره اهتمام وو، راځئ چه واورو، چنانچه

## د ماسخُتن په اوداسه د سحر لـمونځ

يو بزرګ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي چه ما د حضرت شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خِدمت کښې خلويښت کاله تير کړي دي. ما ليدلي وو چه هغوئي به هميشه د ماسختن په اوداسه د سحر لـمونځ کولو. د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه معمول وو چه کله به ئے اودس مات کړو نو فوراً به ئے اودس کولو او دوه رکعاته **تَحِيَّةُالْوُضُو** به ئے ادا کولو او د ماسخُتن لـمونځ ادا کولو نه پس به د شپے خپلے مخصوصے کمرے ته داخل شو او د سحر د لـمانځه د پاره به د هُم هغه کوټے نه راوتلو. (قلائد الجواهر، ص٧٦ملخصاً)

**سُبْحٰنَ الله!** غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به لـمانځه سره څومره **مَحَبَّت** لرلو. **الله** دِ اوکړي چه مونږ ته هُم د غوثَ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په خاطر د لـمونځونو پابندي رانصيب شي او فرائضو سره سره د نفلي لـمونځونو شوق هُم رانصيب شي.

## هره ورځ زر رکعاته نفل

ياد ساتئ! غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به هره ورځ زر رکعاته نفل ادا کول (تفريح الخاطر، ص٣٥)

امیرِ اَهلِسُنَّت **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په خپله رِساله "**سانپ نُما جِن**" کښې دا حِکايت نقل کوي چه پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: يو ځل ما په "**جامع منصور**" کښې

لـمونځ ادا کولو چه يو مار راغـے، هغه [مار] زما د سجدے په ځائے باندے سر کيښودو او خُله ئے وازه کړه، ما هغه لرے کړو او سَجده مے اوکړه خو هغه زما څټ نه تاو شو. بيا هغه زما يو لِستونړی کښې ننوتو او بل نه اُووتلو. لـمونځ پوره کولو نه پس چه ما سلام اوګرځولو نو هغه غائب شو. دويمه ورځ بيا زه هغه جُمات ته داخل شوم نو د غټو غټو سترګو والا يو سړے مے اوليدلو، ما ته اندازه اوشوه چه دا کس انسان نه دے بلکه يو پيرے دے. هغه پيري ما ته اُووئيل چه زه هُم هغه مار يم چه پرون مے تاسو تنګ کړي وئ. ما د مار په شکل کښې د ډيرو اولياءِ کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی ازميښت اغستے دے خو ستاسو په شان ثابِت قدم مے يو هُم نه دے ليدلے. بيا هغه پيري د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په لاس مبارك توبه اوکړه. (بَهجة الاسرار،ص،۱۶۹)

**اللّٰه** پاك دِ مونږه په حقيقي معنو کښې د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه غُلامان او د هغوئي په سِيرت باندے عمل کوونکي جوړ کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** مونږه د **رَبِيعُ الْآخِر** د مياشتے په باره کښې بيان اوريدلو، حضرت شاه کليمُ اللّٰه جهان آبادي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: څوك چه د دے مياشت (يعني د **رَبِيعُ الْآخِر**) په شپږم، دولسم، شلم او شپږ ويشتم تاريخ روژه اونيسي نو هغه ته به بيحده ثواب ملاويږي. (مرقع کلیمی،ص۱۹۸) لِـهذا مونږ ته پکار دي چه د دے مياشت کښې د ثواب خزانے حاصلولو د پاره ډيرے نفلي روژے اونيسو. ياد ساتئ چه د **رَبِيعُ الْآخِر** روژے نه فرض دي نه واجِب بلکه نفلي روژے دي [او نه د دے روژو د غوثِ پاك سره څه تَعَلُّق دے خو ثواب ئے

غوثِ پاك ته هُم اوبخښئ] اَلْحَمْدُلِلّٰه د فرض روژو نه علاوه د نفلي روژو هُم بیشمیره دُنیوي فائدے او ډیر ډیر ثوابونه دي، مَثَلًا

## د نفلي روژو بَرَکتونه

د نفلي روژو په بَرَکت **اللّٰه** پاك راضي کیږي، **د روژو په بَرَکت** د ایمان حفاظت کیږي، **د روژو په بَرَکت** د معدے تکلیفونه او بیمارئ لرے کیږي او د هاضمے نِظام ورسره ښه کیږي، **د روژو په بَرَکت** شوګر لیول، کولیسټرول او بلډ پریشر مُعتدل کیږي او د دے په وجه د زړه د دورے پریوتلو خطره نه وي، د روژو په بَرَکت د وینے [فالتو مقدار] کښې کمے راځي او د دے په وجه زړه ته انتهائي فائده مند آرام رسیږي، **د روژو په بَرَکت** نورے جسماني ذهني او نفسیاتي بیمارئ لرے کیږي، د روژو په بَرَکت د بدن پیړوالے کمیږي او فالتو وازګے ورسره ختمیږي، **د روژو په بَرَکت** د بے اولاده ښځو د اولاد پیدا کیدو امکانات ډیر زیاتیږي . راځئ چه د ترغیب د پاره د روژو په فضائیلو باندے مشتمل درے فرامینِ مُصطَفیٰ واورو او دعوتِ اسلامي سره د نفلي روژو په تحریك کښې شامل شو، چنانچه

## د نفلي روژو فضائل

﴿۱﴾ **خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: چا چه یوه نفلي روژه اونیوله **اللّٰه** تعالیٰ به د هغه د پاره جَنَّت کښې یوه ونه لګوي چه د هغے میوه به د انار نه وړه او منړے نه غټه

وي. هغه به د شَهدو [يعني ګبين] په شان خوږه او خوندوره وي، **اللّٰه** تعالیٰ به په ورځ د قيامت روژه دار باندے د هغه ونے ميوه خوري. (طبرانی کبیر ج۱۸ص۳۶۶حدیث۹۳۵)

﴿۲﴾ **خوږ مَدَني آقا** صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د روژه دار هر ويښته د هغه د پاره **تَسْبِيح** کوي، د قيامت په ورځ به د عرش نه لاندے د روژه دارو د پاره د سرو زرو داسے دسترخوان خور کړے شي چه په هغے به غمي او جواهر [ يعني ملغلرے] لګيدلي وي چه هغه به د دُنيا د احاطے همره وي، په هغے باندے به قِسم قِسم جَنَّتي خوراکونه، شربتونه او ميوے وي، هغوئي به خوري څښي او عيش و عِشرت کښي به وي حالانکه خلق به سخت حساب کښې وي. (فردوس الاخبار، ۵/۴۹۰، حدیث:۸۸۵۳)

﴿۳﴾ د قيامت په ورځ به چه کله روژه دار د قبرونو نه را اُوځي نو هغوئي به د روژے په بُوئي پيژندلے کيږي، د هغوئي د پاره به دَسترخوان لګولے کيږي او هغوئي ته به وئيل شي: "اوخورئ! پرون تاسو اوږي وئ، اوڅښئ پرون تاسو تږي وئ، آرام اوکړئ پرون تاسو ستړي وئ." پس هغوئي به خوري څښي او آرام به کوي حالانکه خلق به د حساب په مَشَقَّت او تنده کښې اخته وي. (جَمْعُ الْجَوامِع ج۱ ص۳۳٤ حدیث۲٤٦۲)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د نفلي روژو فضائل اوريدل. ياد ساتئ! د رَبِيعُ الْآخِر د مياشتے بَرَکتونه حاصلولو د پاره چه څنګه نفلي روژے نيول د سعادت باعِث دي

هُم دغسے د نفلي لـمونځونو په ذريعه هُم مونږه په آسانئ سره د دے مياشتے بَرَکتونه حاصلولے شو. مونږ ته پکار دي چه په دے مياشت کښې هُم ډير ډير نفلونه ادا کړو، د اِشراق او څاښت نفلونه ادا کړو. د دے فضائل هُم ډير عاليشان دي، راځئ چه د دے د فضائلو په باره کښې يو څو فرامِينِ مُصطَفیٰ وارو:

﴿۱﴾ څوك چه د سَحَر لـمونځ ادا کړي او ذِکرُالله کوي تر دے چه د لـمر سترګه اوچته شوه بيا ئې دوه رَکعاته اوکړل نو هغه ته به د پوره حج او عُمرے ثواب حاصليږي. (سُنَنِ تِرمِذی شریف ج۲ ص۱۰۰، حدیث۵۸۶) ﴿۲﴾ څوك چه د سَحَر د لـمانځه نه فارِغ کيدو نه پس په خپله مُصَلّه کښې (يعني کوم ځائے ئې چه لـمونځ کړے وي هُم هغه ځائے کښې) ناست اوسي تر دے چه د اِشراق نفلونه اوکړي، صرف خير وائي نو د هغه ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د زګونو نه هم زياتي وي. (سُنَنُ اَبی داوٗد، ج۲، ص۴۱، حدیث ۱۲۸۷)

﴿۳﴾ د حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دے چه حُضُورِ پاك صاحِبِ لولاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه د څاښت دوه رکعاته لـمونځ پابندئ سره کوي د هغه ګناهونه معاف کړے شي اګر که د سمندر د زګونو هُمره وي." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج۲ ص۱۵۳، ۱۵۴ حدیث ۱۳۸۲)

هُم دغسے په دے مبارکه مياشت کښې دا کوشش کول هُم پکار دي چه مونږه د اَوّابِين نفلونه هُم ادا کړو، حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دے چه د نبيانو

سردار، خوږ مَدَني سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ''څوك چه د ماښام نه پس شپږ رکعاته داسے ادا کړي چه د هغے په مينځ کښې هيڅ بده خبره اونکړي نو دا شپږ رَکعاته به د دولسو کالو د عِبادت برابر وي.'' (سُنَنِ اِبْنِ ماجه ج٢ ص٤٥ حديث ١١٦٧)

او کاش چه د دے مياشتے په بَرَکت مونږه د تَهَجُّد د لمانځه ادا کولو سعادت هُم حاصل کړو. راځئ چه د تَهَجُّد په فضيلت باندے د خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان واورو: چنانچه د اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه روايت دے چه د سَيِّدُ الْمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيِّين، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په جَنَّت کښې داسې بالا خانے [يعني اُوچت مَحلَّات] دي چه د هغے بهر د دننه نه او دننه د بهر نه کتلے کيږي. يو اَعرابي پاڅيدلو او عرض ئې اوکړو: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا د چا د پاره دي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: دا د هغه د پاره دي څوك چه نرمې خبرے اوکړي، په خلقو طعام اوخوري، متواتر [يعني مسلسل] روژے اونيسي، او د شپے پاڅي او د اللّٰه تعالٰى د پاره لمونځ اوکړي چه کله خلق اُوده وي. (سُنَنُ التِّرمِذِی ج٤ ص٢٣٧ حديث٢٥٣٥، شُعَبُ الْاِيْمان لِلْبَيْهَقِی ج٣ ص٤٠٤ حديث ٣٨٩٢)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ربِّ کريم نزديکت حاصلولو د پاره فرائضو او واجباتو سره سره نفلونه هُم په شوق سره ادا کول هره ورځ او هره مياشت کښې ډير خوښ شوے عمل دے. زمونږه خوږ مکِّی مَدَنی آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نفلونو ادا کولو ترغيب هُم ورکړے دے او په هغے باندے ئې د اَجر و ثواب خوشخبري هم ورکړي ده، څنګه چه

## فرائض په نفلونو پوره کړئ

نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: تر ټولو نه مخکښې به د قیامت په ورځ د بنده نه د هغه د لمانځه حساب اخستلے کیږي، که هغه کامِل وو نو کامِل به اولیکلے شي او که مکمل نه وو نو **اللّٰه** پاك به فرښتو ته اوفرمائي: آیا زما د بنده سره څه نفل شته؟ که هغه سره نفلونه وو نو **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت به فرمائي: د ده فرائض د نوافِلو په ذریعه پوره کړئ. بیا به هُم دغسے د زکوٰة او نورو اعمالو حساب اخستلے کیږي. (ابوداود، کتاب الصلاة، باب قول النبی کل صلاة۔۔۔الخ، ۱/۳۲۹، حدیث: ۸۶۴، ۸۶۶)

**حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاك د دے حِصَّے "**فرائض د نوافِلو په ذریعه پوره کړئ**" په شرح کښې فرمائي: دلته د کمي نه په ادا کښې کمي مُراد نه ده بلکه د ادا کولو په طریقه کښې کمي مُراد ده یعني که چا فرائض په ناقِصه طریقه ادا کړي وي نو هغه کمي به په نفلونو پوره کړے شي. دا مطلب نه دے چه هغه بنده فرض لمونځ نه کوي او نفلونه کوي او هلته نفلونو نه فرض جوړ شي. (مِراٰۃُ الْمَنَاجِیح ج ۲ ص ۳۰۷)

## د مدني مذاکرو ترغیب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** که مونږ د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې شامل شو نو نفلونه ادا کول، نفلي روژے نیول، عِلمِ دِین زده کول او ځان همیشه په عبادت کښې مصروف ساتل به زمونږ د پاره ډیر زیات آسان شي. اوس مونږ د رَبِیعُ الْآخِر په میاشت کښې د نفلونو ادا کولو او د نورو نفلي عبادتونو مُتَعَلِّق واوریدل. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دے

مياشتے ورومبو يوولسو ورځو کښې به د ماسخُتن د لـمانځه نه پس په مَدَني چينل باندے د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مقبُولِ عام سِلسِله مَدَني مُذاکَره براهِ راست نشر کيږي. چه په هغے کښې اميرِ اَهلِسُنَّت **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالاتو د جواباتو ورکولو په ذريعه د ژوند د هرے شُعبے مُتَعَلِّق رهنمائي کوي. ټول **عاشِقانِ رَسُول** پخپله هُم د دے مَدَني مُذاکَرو کتلو او اوريدلو نِيَّت اوکړئ او نورو ته هُم د دے ترغيب ورکړئ.

## دولسو مدني کارونو کښې يو مَدَني کار "مَدَني مُذاکَره"

ياد ساتئ! د ذيلي حلقے دولسو مَدَني کارونو کښې يو مَدَني کار "هفته واره مَدَني مُذاکَره" هُم ده. د دے مَدَني کار بيشميره دِيني او دُنياوي فائدے هُم دي، ۞ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت ګناهونو نه د بچ کيدلو ذِهن جوړيږي ۞ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت عِلمِ دِين حاصليږي ۞ د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت ديني معلوماتو سره سره اخلاقي تربِيَّت هُم نصيب کيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ډيرو اسلامي ورونړو د **مَدَني مُذاکرے** په بَرَکت د ګناهونو نه توبه کړي ده. راځئ چه نِيَّت اوکړو چه مونږه به هم هره هفته **"مَدَني مُذاکره"** ضرور د کتلو کوشش کوو او نورو اِسلامي ورونړو ته به هُم د **مَدَني مُذاکرے** کتلو دعوت ورکوو اِنْ شَآءَاللّٰه. ......

د هفته وارے **مَدَني مُذاكرے** نه علاوه **مختلفو** موقعو باندے هُم د **مَدَني مُذاكرو** سلسله كيږي، مَثَلًا د **مُحَرَّمُ الْحَرَام** لس مَدَني مُذاكرے، د **رَبِيعُ الْاَوَّل** (يعني د دولسمے شريفے) د مياشتے دولس مَدَني مُذاكرے، د **رَبِيعُ الْآخِر** (يعني د يوولسمے شريفے) د مياشتے 11 **مَدَني مُذاكرے**، د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** په مياشت كښې هره ورځ دوه **مَدَني مُذاكرے**، د **ذُوالْحِجَّةِ الْحَرام** د مياشتے 10 **مَدَني مُذاكرے** وغيره.

۞ د حيدر آباد (سندھ) د علاقے **پهُليلي پار** اوسيدونكي يو اسلامي ورور چه د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول كښې د شامليدو نه **مخكښې** هغه په ګناهونو كښې اخته وو هغه هره ورځ د يوے مَدَني مُذاكرے سعادت حاصلول شروع كړو ۞ د مَدَني مُذاكرو په بَرَكت د هغه په زړه كښې ورځ په ورځ د ګناهونو نه نفرت پيدا كيدل، او د نيكو **مَحَبَّت** پيدا كيدل شروع شو. ۞ د مَدَني مُذاكرو په بَرَكت د هغه په كِردار او د ژوند په انداز كښې تبديلي راتلل شروع شو. ۞ د مَدَني مُذاكرو په بَرَكت ئے په سُنَّتو باندے د عمل جذبه پيدا شوه ۞ د مَدَني مُذاكرو په بَرَكت ئے په زړه كښې د مَدَني كارونو كولو شوق هُم پيدا شو.

## مجلس مدني مذاكره

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د **رَبِيعُ الْآخِر** د مياشتے په مناسبت د نفلونو متعلق څه بيان واوريدلو، نو كه مونږه هُم غواړو چه مونږ ته ډير ډير ثوابونه راكړے

شي، مونږه هُم ډيرے نيکئ حاصلے کړو، زمونږه ګناهونه هُم معاف کړے شي او مونږ ته هم جَنَّت ته تلل نصيب شي نو مونږ ته د رَبِيعُ الْآخِر په مياشت کښې دا نفلونه ضرور ادا کول پکار دي، که اوس مو ذهن نه جوړيږي نو پريشانه کيږئ مه، بس دومره اوکړئ چه هفته واره مَدَني مذاکره کښې شرکت کول خپل معمول جوړ کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښے دا وخت د 107 نه زياتو شعبه جاتو په ذريعه د دين پيغام عام کولو کښے مصروفِ عمل دے، هُم دے شعبه جاتو کښے يوه شعبه "**مجلسِ مدني مذاکره**" هُم ده، اَلْحَمْدُلِلّٰه! شيخِ طريقت اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری رَضَوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د سوال و جواب په ذريعه د دِين د خدمت يوه اعلیٰ شُعبه قائمه کړي ده چه هغے ته د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې "**مدني مذاکره**" وائي، دا د **علم د بے شميره خزانو مجموعه ده** عاشقانِ رسول په مدني مذاکرو کښے د عقائدو او اعمالو، فضائلو او مَناقِبو، شريعت و طريقت، تاريخ و سيرت، سائنس و طِب، اخلاقيات و اسلامي معلوماتو، معاشي و معاشرتي و تنظيمي معاملاتو او نورو د ډيرو موضوعاتو متعلق مختلف قِسمه سوالونه کوي او شيخِ طريقت، اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د هغه سوالونو د حکمت او عشقِ رسول نه ډك جوابونه ورکوي.

اَلْحَمْدُلِله! د "مجلس مدني مذاکره" تحت د اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ دا خواږه او د علم و حکمت نه ډك مدني ګلونه د ټولے دُنيا مسلمانانو ته رسَوَلو د پاره دا مدني

مذاكرے په تحريري رسالو، وي، سي، ډيانو او ميموري كارډونو كښے د پيش كولو كوشش كښې مصروف دے. الله پاك دِ د دعوتِ اسلامي ټولو مَجالِسو ته بركتونه او ترقي وركړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

الله كرم ايسا كرے تجھ پہ جہاں ميں　　اے دعوتِ اسلامى ترى دھوم مچى ہو

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۳۱۵)

الله دِ كرم اوكړي په تا داسے په جهان كښې　　اے دعوتِ اسلامي ته دِ عام شے په هر ځائے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښې زما سره وي." (ابنِ عساكر ج۹ ص۳۴۳)

سينہ تيرى سُنَّت كا مدينہ بنے آقا
جنت ميں پڑوسى مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت كښ مي خپل جوړ كړه ګاوندي خوږه آقا

# د مِسواک 20 مَدَني ګلونه

اَوّل دوه **فرامینِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملاحِظه کړئ: ۞ دوه رکعاته د مسواک کولو سره کول د مِسواک نه بغیر د 70 رکعتونو نه افضل دي. (اَلتَّرغِیب والتَّرهِیب ج 1 ص 102 حدیث 18) ۞ د مِسواک اِستعمال د ځان د پاره لازِم کړئ ځکه چه په دے کښې د خُلے صفائي (ده او دا د) رَبّ تعالیٰ د رضا سبب دے. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج 2 ص 438 حدیث 5869) د دعوتِ اِسلامي د اشاعتي اِدارے مَکْتَبَۃُ الْمَدِینه چاپ شوي بهارِشریعت جِلداوّل صفحه 288 کښې حضرتِ علّامه مولانا مفتی محمّد امجد علی اعظمی رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ لیکي، مشائِخِ کِرام فرمائي: څوک چه د مِسواک عادت لري د مرګ په وخت کښې به هغه ته کلِمه وئیل نصیب کیږي او څوک چه **افِیم** خوري هغه ته به د مرګ په وخت کښې کلِمه نه نصیب کیږي ۞ د حضرت سَیِّدنا اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا نه رِوایت دے: په مِسواك کښې لس صفتونه دي: خُله پاکوي، ورئ مضبوطوي، نظرتیزوي، بلغم لري کوي، د خُلې بدبوئ لرې کوي، د سُنّت موافِق دے، فرښتے پرې خوشحالیږي، رب پرے راضي کیږي، نیکي زیاتوي اومعده صحیح کوي. (جَمعُ الجَوَامِع لِلسُّیُوطی ج 5 ص 249 حدیث 14867) ۞ حضرت سیِّدنا عبدُالوهّاب شعراني رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ نقل کوي: یو ځل حضرت سیِّدنا ابوبکر شِبلي بَغدادي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ ته د اودس په وخت کښې د مِسواک ضرورت شو، خو مِسواك پیدا

نه شو، لِهٰذا په يو دينار (يعني دسرو زرو په اشرفۍ) ئې مِسواك واغستلو او استعمال ئې کړو. ځينې خلقو ورته اووئيل: داخو تاسو ډيره خرچه اوکړه! مِسواک هم څوك دومره ګران اخلي؟ اوئې فرمائيل: دا دُنيا او د دے ټول څيزونه د الله عَزَّوَجَلَّ په نِزد د ماشي د وَزَر هُمره قدر هم نه لري، که د قيامت په ورځ الله عَزَّوَجَلَّ زما نه تپوس اوکړي چه تا زما د حَبِيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّت ولے پريښودي وو؟ کوم مال او دولت چه ما تا ته درکړې وو د هغې حقيقت خو (زماپه نِزد) د ماشي د وزر هُمره هُم نه وو، آخِر داسې ذليل دولت دِ په دے عظيم سُنَّت (مِسواك) باندې ولې خرچ نه کړو؟ نوځه جواب به ورکووم؟ ﴿مُلَخَّص ازلواقِحُ الانوار ص38﴾ ۞ سيّدنا امام شافِعي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: څلور څيزونه عقل زياتوي: د فُضول [يعني بې فائِده] خبرو نه پرهيز، د مِسواك اِستِعمال، د صُلَحا يعني د نيکو خلقو صحبت او په خپل علم باندې عمل کول. (حياةُالحَيوان ج3ص166) ۞ مِسواک د پيلو، زيتون يا د شنډۍ وغيره تريخ لرګي پکار دے. ۞ د مِسواك پيړ والے د کچې ګوتے همره پکار دے. ۞ مِسواك د يو لويشت نه زيات اوګد نه دے پکار، ګني په هغې شيطان کښيني ۞ د دے ريشے چه نرمے وي سختې ريشې د غاښونو او د ورو په مينځ کښې د "چاؤ" (يعني GAP) پيدا کيدو باعث جوړيږي. ۞ مِسواك که تازه وي خو ډيره ښه ده، او که [تازه] نه وي نو لږ ساعت ئې د اوبو په ګِلاس کښې کيږدۍ چه نرم شي ۞ مناسِب دا دي چه د دے برش هره ورځ پريکوۍ ځکه چه د دے برش د هغے پورے د کار دے ترڅو چه په دے کښې تريخ والے پاتې وي ۞ د غاښونو په سرو کښې مِسواک

کوئ ۞ چه کله هم مِسواک کوئ کم نه کم درې ځله ئې کوئ ۞ هر ځل ئې وينځئ ۞ مِسواک په ښي لاس کښې داسې نيسئ چه کچې ګوته ترې لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئې په سر [د برش سره] وي ۞ مخکښې د ښي طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندِني غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف په لاندِني غاښونو کښې مِسواک اوکړئ ۞ مِسواک په موټي کښې د نيولو سره په مِسواک کولو کښې د بواسير کيدو خطره ده ۞ مِسواک د اودس سُنّتِ قبلِيه دے البَتَّه سُنَّتِ مُؤَكَّده هغه وخت دے چه په خُله کښې بدبوئ وي. (مَاخوذاز فتاویٰ رَضَوِیّه ج1 ص623) ۞ مِسواک چه کله د استعمال قابِل پاتے نه شي نو غورزَوئ ئې مه، ځکه چه دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، چرته ئې په اِحتياط سره کيږدئ يا ئې خخ کړئ، يا څه کانړے وغيره وزن ورپورے اوتړئ او په سمندر کښې ئې ډوب کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بيان جهلکيانے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي د "شانِ غوثِ اعظم" په دے بيان کښے به اِنْ شَآءَاللّٰه د غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه ذِكرِ خير، فضائل و كرامات، اَوصاف وغيره اورو.

لِـهٰذا د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زیارت له هُم اجتماع کښے د حاضرئ نِیَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړئ.

**صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

**اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او **قَبْر** کښے د داخليدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه **قَبْر** کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے

کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو اودريدو نه مخكښے به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپې لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په مينځ کښے کښينولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم حيران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه کله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيکئ ليکي.[2] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه

1...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

2...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چه د ووه وارو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1 ...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵